(۸) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

ددوستم قواوړله خوایرغمل شوي کسان نه دي خوشي کړي شوي

کابل : دلیندي ۲۲ نیټه :
دشوراي نظار اوددوستم د قواوله خوایرغمل شوي کسان تراوسه پوري نه دي خوشي کړي شوي.
د پیام آزادي درادیو درپوټ سره سم چې د شوراي نظار اوددوستم د قواوړله خوانیول شوي کسان چې دتیري جګړي په ترځ کې نیول شوي وو تراوسه پوري نه دي خوشي کړي شوي.
رپوټ زیاتوي چې دمکر وریان په څلورلاري کې چې دشوراي نظار کومي پوستي وي دهغي پوستي وګري ددوستم دقوا له خوا یاوژل شوي اویاتول ژوندي نیول شویدي.
که څه هم دتیري چهارشنبي په ورځ دواړو خواوو په خپل مینځ کي پراوربند موافقه وکړه خوتراوسه پوري کوم کسان چې ددوستم د قوله خوانیول شویدي نه دي خوشي کړي شوي.

برادر حکمتیار ازجامعهٔ جهاني براي مهاجرین تاجکي تقاضاي امداد نمود

برادرحکمتیارامیرحزب اسلامي افغانستان به سکرتریت حزب اسلامي درپشاورسفارش نموده که براي مهاجرین تازه واردتاجکستاني که درولایت کندز اقامت گزیده اند ازجامعهٔ جهاني تقاضاي کمك بشردوستانه نموده ، همچنان ازوسایل وامکانات خودبخاطرتأمین پناهگاه ومواد غذایي براي آنها استفاده نمایدوآنچه درتوان داشته باشد بامهاجرین کمك کند.
وضع مهاجرین درولایت کندزکه نسبت درگیري هاي داخلي کشورشان را ترك نموده اند نهایت وخیم بوده به امداد عاجل وفوري لوازم معیشت ازقبیل لباس، فرش ، لحاف ودوشك ، خیمه ومواد غذایي نیازمنداندکه درصورت عدم ارسال آن هزاران آوارهٔ مسلمان تاجکي ازسرماوگرسنگي جان خواهندسپرد .
آژانس خبري انا بعدازتماس باسکرتریت حزب اسلامي درپشاور خبرمیدهد که آنهاازسازمان
ص(۸)

شمارهٔ مسلسل (۵۷۲) سال پانزدهم ،شمارهٔ (۱۱۸) سه شنبه ۲٤ قوس ۱۳۷۱ هـ.ش- ۲۰جمادي الثاني ۱٤۱۳ هـ.ق- ۱۵ دسمبر ۱۹۹۲م

بیه : یوه روپی یا(۵۰)-افغانی

دربانی وروستی اظهارات دټولو جهادی تنظیمونو اوملت په وړاندی دجنګ له اعلان سره مترادف دی

موږته دربانی دوروستیو اظهاراتو عواقب وخیم ښکاري

موږله دي وروسته بی تفاوته نشو پاتی کیدای

۷مخ

• موږپه جمعیت کی ددی توان نه وینوچی دټول ملت په وړاندي ودریږي

هفت تنظیم جهادي خواهان به تعویق افتادن تشکیل شورآی حل وعقدگردیدند

کابل ۲۲ قوس .
قراربرآن بود که روزشنبه تاریخ ۲۱ قوس شوراي حل وعقد به خاطر برگزیدن رئیس جمهورآیندهٔ افغانستان تشکیل گردد . ولي نسبت بعض نارسایي هاي ادارهٔ ائتلافي این شورا دائرنگردیده آنرا به روز سه شنبه موکول ساخت.
آغاي سیدنورالله عماد منشي جمعیت وعضو کمیسیون برگزاري شوراي حل وعقد طي کنفرانس خبري روز یکشنبه اظهار داشت که شورا طي دوویاسه روز آینده برگزارخواهد شد وبه خاطر به تعویق افتادن آن به کمیسیون درخواست رسمي مواصلت نکرده است. وي زمانیکه کنفرانس مطبوعاتي آغاي "عماد" خاتمه یافت ،متصل آن هفت تنظیم جهادي کشور ابلاغیه بي رابه نشرریسانیدند که درآن خواستار به تعویق افتادن شوراي اهل حل وعقد شدند.
درین اعلامیه امضا هاي نمایندگان حزب اسلامي ،افغانستان ، حرکت
ص(۸)

ممالك اسلامی بایدباکشور هند روابط اقتصادي خویش را قطع نمایند

رشید ترابی

مظفراباد - ۲۲ قوس .
عبدالرشید ترابي امیرجماعت اسلامي جمو وکشمیر آزاد ازتمام ممالك اسلامي بالخاصه دول عربي خواسته است تا کشور هندوستان راتهدید نموده وهرنوع روابط اقتصاد خویش را با آن قطع نمایند .
همچنان روابط دیلوماتیکي شان رامنقطع سازند. وي طي بیانیه ازحکومت پاکستان خواسته است ، که هندوستان برخلاف تعهدات (لیاقت - نهرو) مسجد بابري رابه شهادت رسانیده و قتل عام مسلمانان راآغازنموده است بناً باوي هیچ گونه روابط تجارتي ، ودیپلوماتیکي جواز ندارد، پاکستان باید پیش ازهمه روابطش رابا هندوستان قطع نموده سائر ممالك اسلامي را وادارسازد تا دست به این اقدام زند. ترابي گفت اگرمسلمانان بالاتحاد کامل بامقاصد شوم هندوستان مقابله نکنند آنگاً جلو وحشي گري هاي هندوستان رادرجنوب آسیا هیچ کسي گرفته نخواهد توانست.

مبارزان مسلمان مصر علیه دولت به مبارزهٔ خودشدت خواهند بخشید

قاهره ۲۳ قوس .
گروه جماعت اسلامي مصراعلان کردکه به مبارزهٔ خود بانیروهاي امنیتي مصر شدت خواهند بخشید .
درین بیانیه عملیات سرکوبي مبارزان درمحله فقیر نشین امبابیه قاهره اقدام تحریك آمیز خوانده شده است . که هدف از آن گسترش رویارویي و بهانه براي سرکوبي دیکتاتوري وفشار بیشتر است .
رادیو ایران گزارش مي دهدکه جماعت اسلامي درین بیانیه به خارجیان هوشدارداده است که بیشتر مراقب باشند واز آمد و شد درمحل هاي درگیري مبارزان به نیروهاي امنیتي بپرهیزند. درکمتر ازیك هفته پیش که نیروهاي امنیتي عملیات علیه مبارزان مسلمان را درامبابوي آغازکرده اند.
تاکنون بیش از ٦۰۰ نفربازداشت شده اند، آماربازداشت شده گان درمحله امبابوي قاهره را رسماً سخن گوي مطبوعاتي حسن مبارك اعلان کرد.
وي همچنین گفت که دولت مصر تندگرایان اسلامي را درین کشور تحمل نخواهدکرد.

عوامل به تعویق افتادن شوراي اهل حل وعقد

قراربود مطابق مواد معاهدهٔ پغمان وقرارداد آتش بس میان نیروهاي ائتلافي ومجاهدین حزب اسلامي، درختم دورهٔ چهارماههٔ آقاي رباني رئیس ادارهٔ ائتلافي ، اعضاي شوراي اهل حل وعقدبه مشوره شوراهاي ولسوالي ها براساس راي گیري آزادوعادلانه انتخاب وغرض تعیین زعامت دورهٔ مؤقت یك ونیم ساله افغانستان وسایرمسایل مهم کشورتصمیم اتخاذ میکرد. مگرمتأسفانه نسبت تعلل وبي کفایتي ادارهٔ ائتلافي ، شوراي حل وعقددرموعدمعین آن تشکیل نگردید ودرختم دورهٔ چهارماه ریاست استادرباني ،شوراي قیادي یك ونیم ماه دیگرراغرض نیل به مأمل فوق تخصیص داد، هرچند بسیاري ازتنظیم هاباتمدیدریاست استادرباني مخالف بودند، مگرموضعگیري هاي فرصت طلبانهٔ بعضي دوستان باعث گردیدکه ادارهٔ ائتلافي یك ونیم ماه دیگربخت خودرادرامرادارهٔ کشوربیازماید. دورهٔ یك ونیم ماهه هم بپایان رسیدوناتواني وبي کفایتي ائتلاف بیشترازپیش براي فردفرد هموطنان مسلمان ما آشکارشد .
امروزسه شنبه ۲٤ قوس مدت یك ونیم ماهه تمدیدهم پایان یافت ، ولي کوچکترین اثري ازتشکیل شوراي حل وعقد محسوس نیست.
هرچندزمامداران جمعیت هریك آقایون رباني، مسعودوعماد گاه وبیگاه ازطریق امواج رادیوهاي بي بي سي وصداي امریکا اعلان مي کنندکه شوري درموعدمعین آن تشکیل میگردد، ولي این وعده هادیگربه معمابدل شده وهیچکس بچنین حرف هاي غیرمسئولانه وغیرعملي وقعي نمي گذارد .
مهمترازهمه اینکه کمیسیون تدویرشوراي اهل حل وعقد درنشست روزیکشنبه مؤرخ ۱۵ قوس خویش به اکثریت قاطع آراء فیصله نمود که دولت امکانات تشکیل شوراي حل وعقد رابرهم زده وبهترآنست که شوراي قیادي زمان دیگري رابراي انجام این امرمهم تعیین نماید.
درقطعنامهٔ کمیسیون تدویرشوراي حل وعقد که ازجمله نه تنظیم، نمایندگان هفت تنظیم درآن امضانموده اند، آمده آست که به نسبت سردي هوا ازیکسوامکان تجمیع رأي دهندگان درحوزه هاي انتخاباتي مشکل گردیده وازسوي دیگرامکانات نقل وانتقال یك هزاروپنجصدنفرنماینده ازولایات دوردست به کابل کاردشوارمیباشد .
اسباب دیگر به تعویق افتادن شوري مداخلات وتشبثات
ص(۷)

له ټاکل شوی مودی پرته دربانی دوره یوساعت باید هم تمدید نشي

بي بي سي - ۲۳ قوس :
دجبهه نجات ملي مشرپروفیسور صبغت الله مجددي داهل حل وعقددشوراجوړیدواوله رباني نه دقدرت اخستو په باب له بي بي سي سره په مرکه کي وویل : تراوسه نده معلومه چي سباورخ به دمجاهدینوټول رهبران راشي اوکه نماینده ګان به راولیږي هغه وویل قیادي شوري بایدفیصله وکړي له رباني څخه قدرت تسلیم کړي هغه زیاته کړه له ټاکل شوي وخت وروسته باید دربانی دواك موده یوساعت هم تمدیدنشي اوبیاداقدرت یوه بل رهبرته انتقال شي ترڅو داهل حل عقدشوراته موقع برابره شي اوپه خپله موقع داهل حل اوعقدشورادائره شي هغه وویل باید داسي شوراهیځکله هم جوړه نشي چي ساختګي یاتقلبي وي. حضرت مجددي داهل حل اوعقد دشورادااعلانیدو په باب وویل کوم اعلان چي په اول کي ددي شورادراغونډولولپاره شوي هغه فقط
۷مخ

قیادی شوری باید دربانی پرځای یومؤقتی مشرو ټاکی

کابل : دلیندي ۲۲ نیټه.
داهل حل اوعقد شوراچي ټاکل شویوه دشنبي په ورځ په کابل کي پرانستل شي ناکامه شویده .
دغي شوراکي باید د رباني پرځاي یوبل کس ټاکلي واي.
درویتردخبري آژانس درپوټ سره سم ویل کیږي چي دغه شورابه په خوراتلونکو ورځو کي پرانیستل شي.
خبرزیاتوي چي ائتلافي حکومت ویلي چي دتیري اوني دسړي هوااودجګړي اودخیني ولایاتودمخالفت له امله یوازي څو محدوداستازي کابل ته رارسیدلي دي.
په کابل کي یو.ویندوي دقیادي شورا دویاند آیت الله محسني له خولي وایي چي په اوسنیو شرائطوکي دحل اوعقد دشورا دجلسي امکانات نشته چي درباني په عوض بل څوك انتخاب کړي .
محسني وویل چي که دحل اوعقد
(۸)مخ

چرنومیردي به حیث صدراعظم جدیدروسیه انتخاب شد

مسکو- ۲۳ قوس :
آژانس هاي خبري ازمسکوخبرمیدهندکه چرنومیردي به حیث صدراعظم جدیدروسیه انتخاب گردید .
ویکتورچیرنومیردي که قبلاً مسئول دفترصدراعظم ورئیس تأمین انرژي روسیه بودتوسط بوریس یلتسن رئیس جمهور آنکشوربه حیث کاندیدمقام صدارت پیشنهادشدازطرف کانگریس نمایندگان موردتاییدقرارگرفت .
بوریس یلتسن قبل ازوي ایگورگایدارکفیل صدراعظم فعلي روسیه را جهت احرازاین مقام پیشنهادکرده بودکه وي نتوانست راي اعتماد کانگرس رابدست آورد.

ممالك عضو "سارك" بخاطر تعمیرمجددمسجد بابری باید برکشور هندفشار آورند

داکه : نوازشریف صدراعظم پاکستان طي سفرش دربنګله دیش گفته است که کنفرانس سارك زماني به اهداف و مقاصدش مؤفق مي گردد ،که ممالك عضو آن تمام مسایل داخلي شان را حل وفصل نمایند.
نوازشریف پس ازاینکه درمورد حل مسایل کشمیر اظهاراتي نمود درقبال شهادت مسجد بابري نیز بیانات ارائه نموده گفت مسجد بابري درین منطقه ورثهٔ اسلامي بود ولي نیروهاي شروفساد آن رابه شهادت رسانیده بافعل مذموم شان به ضمیر ووجدان مردم مهذب صدمه واردنمود .
صدراعظم پاکستان علاوه نمودکه وي ازممالك عضو سارك میخواهد تاجهت تعمیرمجدد مسجد بابري درجاي اصلي اش بالاي حکومت هندوستان فشار بیاورند.

دجاپان صدراعظم خپله نوي کابینه وټاکله

توکیو دلیندي ۲۲ نیټه:
دجاپان صدراعظم دخپلي دوهمي کابینې دسوګند یادولو دمراسمو څخه وروسته وویل چي دجاپان ریاست دیوه نوي دورپیل دي.
دجاپان دامپراطور په قصرکي دسوګند یادولو دغه مراسم په کابینه کي ددیرو زیاتو تبدیلیو څخه فقط یوه ورځ وروسته اجراشول.
(۸)مخ

په افغانستان کی تراوسه پوری اسلامی حکومت ندی قایم شوی

دلیندي ۲۲ نیټه :
یعقوب شرافت دبي ،بي، سي سره په مرکه کي وویل : هغه اعلامیه چي پرون خالص صاحب دجمهوري ریاست لپاره دخپل ځان دکاندید په هکله په جلال آبادکي خپره کریده دهغي نه داسي معلومیږي چي د مولوي خالص په نظر اوس هغه مرحله را رسیدلي چي په افغانستان کي دیونیم ملیون شهیدانو وینې ضایع کیږي اوافغانستان په مکمله توګه دتباهي په لورروان دي
شرافت وویل : هغه دا هم ویلي چي نه یوازي داچي په تیرواتو میاشتوکي په افغانستان کي اسلامي حکومت قایم نه شو بلکي دکابل ښاریانو ته امن هم نه دي ساتل شوي او دهري ورځي په تیریدو سره په کابل کي دوینوسیلابونه روان دي هغه زیاته کړه چي مولوي خالص داستاد رباني دخومیاشتنی دوري نه خوښ نه وو
(۸)مخ

سخن روز

درامهٔ «سوء تفاهم»!

آیاکودتاوگرفتاري وزيردفاع ادارهٔ ائتلافي درکابل حقيقت داشت ؟

سرکاتب

بعدازساعت ده روز (۱۸) قوس درگیرهاي داخل شهرکابل شدت گرفت. نیروهاي دوستمي درپهلوي حزب وحدت ظرف چندساعت محدود براکثرنقاط شهرتسلط پیداکردند وشوراي نظارکه تبلیغات خارجي ازآن به عنوان نیروهاي دولتي یادمیکنندرمعرض تسلیمي وسقوط قرارگرفت .

ظهرهمین روزاکثرمنابع خبري ازوقوع کودتاوگرفتاري احمدشاه مسعود وزیردفاع ادارهٔ ائتلافي اخباري رامنتشرنمودند. اولین منبع خبري که درین زمینه اشاره دادرادیومسکوبود. رادیوصداي آلمان وبعضي حلقه هاي خبري که درارتباط به مجاهدین کارمیکنند نیزاین خبرراتائیدمي نمودند .

جالب اینکه صداي امریکاهمان شب وفرداي آن به ارتباط قضایاي جاري کابل یك سطرهم خبروتبصره نداشت. تبلیغات رادیوبي بي سي به نحوي بودکه نشان میدادسقوط حکومت ائتلافي وزعامت آن درکابل برغرب گران تمام میشود .

مصاحبهٔ نطاق وزارت دفاع ادارهٔ ائتلافي بابي بي سي وتلاش حامدعلمي همکاراین رادیوبراي کتمان برخوردهاي شوراي نظارو دوستمي ها باورمردم را درقبول اینکه وزیردفاع گرفتارشده باشدبیشترنمود .

داکترعبدالله نطاق وزارت دفاع وحامدعلمي تصرف یکتعداد مواضع وپوسته هاي حکومت راتوسط دوستمي ها تائید میکردند ولي اصرارداشتندکه این برخوردهادرنتیجهٔ سوءتفاهم ا صورت گرفته است .

نقطهٔ جالب اینکه نطاق وزارت دفاع ازقهروعصبانیت نیروهاي دوستم وحوصله وفراخ دلي نیروهاي دولت براي صرف نظرکردن ازبعضي مراکز شان نیز یادآوري میکردوباگردن بلندتوضیح میدادکه قواي دولت بخاطرفرونشاندن قهرنیروهاي دوستم داوطلبانه ازپوسته هاي خودعقب نشستند .

اماحدوداً پس ازیك شبانه روز سخنگوي دوستم اعلام کردکه نقاط تصرف شده درخلال یکي دوروزدوباره بدولت سپرده خواهدشد .

بعدازاین اعلام بودکه رادیوبي بي سي نوارگفتگوي احمدشاه مسعودراپخش نمودکه درآن ازکوشش هاي عناصرمخالف حکومت درجهت به تعویق انداختن شوراي حل وعقدشکایت میشدوازتصمیم حکومت براي برگزاري این شورا صحبت بمیان مي آمد. تصرف مواضع شوراي نظاربشمول وزارت دفاع براي تمام منابع خبري جریاني روشن وقابل قبول است ، لفظ مهم درین ماجرانحوهٔ رهائي وزیردفاع وواپس بخشیدن مواضع به شوراي نظار وقبول شرایطي است که برویت آن جناحهاي متحارب ائتلاف باهم به توافق رسیده اند وبردوام کارادارهٔ ائتلافي راضي شده اند.این ابهام زیاددوام نمیکندممکن درچندروز دیگرهمه مسایل روي آب بیایدوانکشافات مهمي درکشور عرض اندام نماید .

حرف مسلم این است که جمعیت وشوراي نظار باپرداخت بهاي سنگین وقبول یك سلسله تعهدات جدي وجدید،ظاهراً برسرپامانده اند. برخورد هاي اخیر،جمعیت رابیش ازگذشته فاقدصلاحیت ووابسته ساخته ودررقابت هاي کابل، شوراي نظارکه زماني قوت موثرجهادي بحساب میرفت میدان راازدست داده است .

تنهااقدامي که میتواند شوراي نظاروجمعیت راازاین برهمه انهدام وسقوط نجات دهد توسل بیك پالیسي اخلاص مندانه واسلامي است . آنها باید راهاي منفي توسل به اقتدار را کناربگذارند .حکومت درزیرسایه نیروهاي غیرجهادي وکمونیستي افتخاري ندارد .

بیرون رفتن جمعیت ازحکومت وازکابل صدهابارآبرومندانه تر ازاین است که درحکومت ائتلافي باقي بماند ، وروزدرروز شاهدغرق شدن تمامي افتخارات جمعیت باشند.

نظامیان ترکیه باردیگر خواهان مداخله درشمال عراق اند

المجله.

درهفتهٔ گذشته وزارت دفاع ترکیه بزرگان کردهاي عراقي رامتهم ساخت که ایشان مجال کاربراي اعضا ومنسوبین حزب کارگر کردها راکه درترکیه ممنوع قرار داده شده است وسیع ساخته اندوآنهارابه اقامت شان درشمال عراق همکاري مي کنند.

این ارکان اردوي ترکیه گفته است : همان طوریکه درماه گذشته درین منطقه داخل شدیم ، درصورت استمرار ودوام این حالت ایجاب مي کند تاماباردیگر براي منع حرکت کردهاي افراطي برین منطقه داخل اقدام شویم

چراجمعیت اسلامي تاکیدبه دایرشدن شوراي حل وعقد دارد

امروزسه شنبه ۲٤ قوس آخرین روز سلطنت استادرباني است که باید باکرسي ریاست جمهوري وداع نماید، گرچه استادبایدبه اساس فیصلهٔ شوراي قیادي که معروف به قراردادپشاور گردیده است ، یك ونیم ماه قبل ازین مقام سبکدوش میگردید، زیرادرقرارداد متذکره فیصله بعمل آمده بودکه بعدازاکمال دوماهه دوره ریاست حضرت مجددي صاحب ، استادرباني بمدت چهارماه درین سمت کارنموده ودرهمین مدت شوري دایروحکومت انتقالي کارخویش را بخصوص درمورد برگزاري انتخابات ، عودت مهاجرین واعمارافغانستان آغازنماید.

دورهٔ چهارماههٔ اقتداراستادرباني به پایان رسیدمتاسفانه علاوه ازآنکه درین مدت کارهاي سازندگي صورت نگرفت و شوراي حل وعقددایرنگردید، خلاف انتظارهمه ، کشور درمعرض خطرتجزیه قرارگرفت وشیرازهٔ وحدت ملي درهم پاشید، جنگ عقیده میان گروه هاي شامل ائتلاف ، جایش رابه تعصبات پوچ ومیان تهي سمتي ومذهبي خالي کردوهزاران هزارانسان بیگناه بجرم پشتون وهزاره وتاجیك وازبك،پنجشیري وبغماني وبامیاني وقندهاري بودن جان شان راازدست دادند وفداي هوس بازي هاي دیوانه گان قدرت شدند وچه بسا منازلي که خاکدان شدوچه بساجواناني که درسیاه چال هاي زندان بدست خادیست هابجرم مسلمان بودن وبارژیم ائتلافي نبودن کشته شدندوهنوزهم شکنجه مي شوند. وچه دارایي هاي منقول وغیرمنقول شخصي ودولتي تاراج شدوکسي حرف بزبان نیاورد...!

درپایان این چهارماهه که دورسیاه وماتم براي مردم افغانستان بالاخص مردم مظلوم وخوش معاشرهٔ کابل خوانده مي شودبازدورهٔ استاددراثرسازش هاخلاف فیصله پشاور علي الرغم اعتراض شدیدپروفیسرمجددي ومخالفت

اسماعیل خلیل

شدیدنمایندگان حزب اسلامي وحرکت انقلاب اسلامي به انتخاب استادمرتبه ثاني، براي مدت چهل وپنج روزتمدیدگردیدودرین قرارتذکر رفت که بایددرظرف این مدت شوراي حل وعقد دایرگردیده رئیس جمهورموقت تعیین گردد وبه هیچ صورت مدت ماموریت استاد رباني قابل تمدیدنمي باشد. درصورت عدم دایرشدن مجلس حل وعقدقدرت به شوراي رهبري انتقال مي یابد.

مدت یك ونیم ماه نیزبه سرآمد ولي درین مدت یك ونیم ماه ، بیشترازقبل اوضاع کشوربحراني گردید، جنك هادرداخل ائتلاف شدت گرفته صدهاکشته وزخمي واسیربجاگذاشت .

وهکذا دارایي هاي عامه به نقل ازرسانه هاي خبري به خارج انتقال داده شد وهمچنان ملیاردهاملیاردافغاني غرض خریدوفرُش افراد سرازیرگردید. ولي متاسفانه گاهي هم گامي درراه بهبود اوضاع جاري درکشوربرداشته وسنگي براي اعمارآن نهاده نشد!

باوجوداین ویراني ها آتش سوزي ها وقرباني هامقابله قدرت درمیان اعضاي شامل ائتلاف به شدت جریان دارد . قراراطلاع بنگاه خبري، استادرباني مایل است درین مقام باقي بماند، چنانچه درمصاحبه شان بارادیوبي بي سي ازدایرشدن قطعي شوراي حل وعقد سخن زده ودرجواب سوال خبرنگاربي بي سي درصورتیکه شوري دایرنگردد چه موقفي اتخاذ خواهدکرد؟ گفت : تا زمان تشکیل شوري بقدرت باقي خواهدماند .

درحالیکه پیرسیداحمد گیلاني رقیب استادرباني که بمقام ریاست جمهوري خودراکاندیدنموده دایرشدن شوراي حل وعقدرا درشرایط فعلي که آتش جنگ ازهرطرف زبانه کشیده وکابل دروضعیت نگران کننده بي قراردارد، غیرممکن خواند، وي نظرش راچنین ابراز نمودکه باپوره شدن مدت استادرباني صلاحیت به شوراي قیادي سپرده شودوشوراي قیادي شخصي رابراي مدت شش ماه به این سمت بریاست جمهوري ، بگمارد. وهمچنان حزب وحدت اسلامي نیزاین وقت رابراي برگزاري شوري مناسب ندانسته جمعیت اسلامي رامتهم به عهدشکني ، استفاده جویي وانحصارطلبي نمود که اکثریت تنظیم هاي شامل به ائتلاف به شمول حزب اسلامي افغانستان به این اتهامات درمورد جمعیت موافق اند.

یعقوب شرافت درمصاحبه باپروگرام پشتوي رادیوبي بي سي شام دوشنبه ازقول مولوي محمدیونس خالص همکاري به حکومت موجوده را ردنموده وآنراحکومت غیراسلامي خواند وبراي تحقق آرمان شهداء غرض احرازکرسي ریاست جمهوري به مقابله استاد رباني وپیرسیداحمدگیلاني که وي رانیزشایسته این منصب نمي داند واردمیدان مبارزه سیاسي گردید.

استادرباني حاضرنیست تاقدرت به شوراي رهبري انتقال گردد ودرتعیین رئیس جمهوري ، شوراي قیادي تصمیم اتخاذ نماید. چه ازاوضاع حاکم برجوسیاسي چنین معلوم مي شودکه استاد رباني درشوراي قیادي به انزوا کشانیده شده وشانس پیروزي خویش را ازاین طریق ازدست داده . درین راستا تازمانیکه مولوي صاحب محمدیونس خالص واردمیدان نگردیده بود، استادرباني امیدآنرا داشت که استاد سیاف درپهلوي وي قراردارد واگر حزب اسلامي مولوي صاحب خالص در شوراي قیادي اشتراك نماید، شایداوراتسبت به پیرسیداحمد گیلاني ترجیح بدهد؛ ولي حال روشن شدکه درین مبارزه (قدرت) مولوي صاحب خالص نیزواردمیدان گردید، استادرباني شاید درشوراي قیادي فقط استادسیاف راباخودهمفکربداند ولي بنابرموضعگیري هاي مولوي صاحب خالص به طرفداري استادسیاف چنین پیش بیني مي شودکه شاید استادسیاف بجانب مولوي خالص بایستد. وازجانب دیگرجنگ اخیرشوراي نظارباحزب وحدت اسلامي که ازمخالفین سرسخت استادسیاف مي باشدوهمچنان تعلقات تنگاتنگ استادسیاف واحدشاه معاون وي باجمعیت ، اتحاداسلامي را درآزمون سخت بین (حزب اسلامي مولوي خالص وجمعیت) قرارداده است که کدام یك رادرین مقابله یاري مي بخشد هرگونه تبصره درین راستا قبل ازوقت است واگرفرض شودکه استادسیاف بجانب جمعیت بایستد بازهم جمعیت به انزواکشانیده شده ، ممکن نیست از طریق شوراي قیادي به کرسي اقتدار باقي بماند روي همین اصل است که مسعود، استادرباني وعزیزمراد سخنگوي ریاست ائتلافي هرکدام درمصاحبه هاي شان ازدایرشدن شوراي حل وعقدسخن بزبان برده اند . درحالیکه تاهنوز درولسوالي هاي کابل هیئت مشترك براي تعیین اعضاي شوري حضورنیافته چه رسدبه انتخاب اعضادرولسوالي هاوولایات دوردست کشور .

جمعیت این مسأله رادرك کرده است که بقاي وي ازطریق ائتلاف ناممکن گردیده ودرشوراي قیادي نیزرنگ باخته است . بهترین راه رابراي بقاي خویش درقدرت ، نام بردن ازشوراي حل وعقداست که به گفته آقاي سیدنورالله عماد بمجرددایرشدن شوراي حل وعقد، شوراي قیادي ازبین میرودکه جمعیت ازمدت هاپیش بالاي این پروژه (اهل حل وعقد) سرمایه گذاري نموده وباربارااعلان نموده است که پنج فیصد اعضارا رئیس جمهورانتصاب نموده وهمچنان اگربه کدام ولسوالي درموردتعیین عضوکشمکش صورت گیرددرآن صورت رئیس جمهوري نماینده آن ولسوالي راتعیین میدارد گرچه این موضوع مورد اعتراض اکثریت اعضاي شوراي قیادي و هیئت برگزاري شوراي حل وعقدقرارگرفته باوجودآنهم جمعیت برآن تاکیدمي ورزد. به همین ترتیب بعدازاعلان این موضوع دراکثریت ولسوالي هاي که نفوذ جمعیت درآنجاقابل اثرنبوده کشمکش خلق گردیده وحتي آتش جنگ مشتعل شده است که ده هاانسان درحلقوم جنگ فرورفته اندوهنوزهم سلسلهٔ آن ادامه دارد .

ودربعضي ازولایات پول هنگفت درین راستا ارسال گردیده که ازجمله کندهاروپکتیا رانام برده مي توانیم .

این راه وشیوه راکه اکنون جمعیت براي استمرارقدرت اتخاذ کرده است کاملاً اشتباه بوده علاوه ازآنکه درمان دردملت مادرآن جستجو شده نمي تواند هزاران دردي رابه دردهاي ملت رنجکشیده مامي افزایدوآتش جنگ راشعله ورترمي گرداندکه ازهمه بیشترجمعیت درآن خواهدسوخت !

چه اگر بنابراین مي بودکه چندنفري راازهرگوشه وکنارکشورمطابق میل خویش انتخاب نموده وبه آنهانامي نهاده مي شداهل حل وعقد وبالویه جرگي وازآنها به شکل نمایشي فیصله دلخواه گرفته وبرملت تعمیل مي شد، ببرك ونجیب قوي تروديموکراتيك ترازین عمل نمودند، چرانتوانستند حتي براي یکروز برقدرت آرام باقي بمانند؟ جواب روشن است آنانیکه راه غیرقانوني ، غیرشرعي وغیرانساني رابرگزینند اند انجامي جزسیاه رویي وسرافکندگي چیزي دیگرنخواهدداشت .

امیداست برادران جمعیت متوجه این امرخطیرگردیده، ازراه اصولي وشرعي که پشیماني ندارد، واردصحنه گردند وقضایاي پیچیده راباالاشتراك همه تنظیم هاي جهادي بلااستثناء حل وفصل نموده ، دست

ص (۷).

ائتلاف ، انفلاق وکړ!!

شمس الحق "شمس"

دلیندي دمیاشتي له ١٤ نیتې‌نه په کابل ښارکي دنامقدس ائتلاف په شکیدلي حلقه کي‌ررا‌تولو ډلو یعني شوراي نظارچي مشري یي داحمدشاه مسعود په غاړه ده اودشیعه ډلي حزب وحدت چي عبدالعلي مزاري ئي مشري کوي اوداېران دحکومت دمستقیمي مرستي نه برخورداره دي، سختي خونړي نښتي وشوي او دجګړو ساحه ورو‌په ورودکابل ښارزیاتروبرخوته ورسیده چي دسلګونوبي ګناه خلکودمرګ ، ژوبلي اودزیات شمیر کورونودړنګیدوسبب وګرځیدلي .

ددغونښتراسباب اوعوامل دکابل ښارڅخه په مختلفو شکلونوسره شایع شوي دي. زیاتره خبري سرچیني زیاتوي چي دائتلافیونودغه دوي متخاصمي ډلي دیویل ځخه داشغال شویوځایونودنیولو اوترخپلي قبضي لاندي راوستلولپاره یوپربل باندي تباه کوونکي درني حملي کوي، دحزب وحدت ډله ادعاکوي چي دشوراي نظارډلي زموږ‌په مرکزونوباندي درندي ډزي وکړي اوموږیې متقابل ځواب ورکړ،دکابل ائتلافي اداره اودشوراي نظارحامیان بیاوایي چي اصلاً دحزب وحدت ډله نه غواړي چي دحل وعقدشوري چي تقریباً په سلوکي یې ۸۰ فیصده کارسرته رسیدلي دي، په ټاکلي نیټه جوړه شي نوځکه یې په کابل ښارکي دهرج اومرج جوړولولپاره دجنګ اوجګړي لاره خپله کړیده ، همدارنګه یوه بله مسئله هم دکابل څخه په رارسیدلوخبرونوکي ددغي خونړي نښتي باعث ګڼل کیږي چي دلیندي په ١٤ مه نیټه دجمعیت یوي وسله والي ډلي په یوه داتسن موټرکي دپخواني کمونست رژیم دخاددجنایتکاره شبکي مهم اسناد دله منځه وړلو اوسوځولو لپاره دتیمني دښتي ته انتقالول. کله چي دغه موټرپه تیمني کي دحزب وحدت دډلي دڅارونکو له خوابوناڅاپه توقف شواودبارشویوڅیزونوپوښتنه یې ځني وکړه دجمعیت وسله والوکه هرڅومره تندي اوسپېړي خبري ورته وکړي خوموټرته یې دتلواجازه ورنکړه اوډموټرپه تلاشي یې شروع وکړه خوسله والو کسانودحزب وحدت پلټونکي پرېښبودل چي دااسناد تفتیش کړي په زیات کشمکش کي یواځي یوه دوسیه دحزب وحدت ډلي لاس ته ورغلي چي په هغه کي دتیرمنحط رژیم له خوازموږدمومنوهیوادوالودیوي مخي دمرګ حکمونه صادرشوي وو ددغواسنادوپه لیدوسره دحزب وحدت څارونکي نورهم په غوسه شوي اونزاع یې دیویل دمرګ اوژوبلي سبب شول چي پدي ځاي کي له استادودك موټراوپکي سواره وسله وال جمعیتان چي ددین اووطن ددښمنانولپاره ئي خدمت کاوه دراکټ دمرمي خوراك شول او بالاخره داموضوع ددغه ویرجن جنګ دجدل سبب وګرځیده .

به هرحال که دجنګ اصلي عامل هرڅه و خوداطبیعي خبره وه چي دنامقدس ائتلاف اختیارکړي دریځ په ځرګنده سره داسي بریښیده چي یوه ورځ نه یوه ورځ به داائتلاف انفلاق کوي ځکه ددغه ائتلاف تهداب او خښته داسلام ددښمنانوپه لاس دیوه ځانګړي ناشوني مقصدلپاره اېښودل شوي وه ، به هغي کي دڅېل شوېو اوکړېدلیو هیوادوالو عمومي خیراوښیګڼي ته هیڅ ځاي نه و ورکړشوي بلکي یوسازش اودسیسه وه چي ددښمنانو دواقعي اسلامي حکومت دنه جوړیدو اودمجاهدینوداعظمت اوشهامت اوګټلي افتخاردراتیتولولپاره په کارواچول شوه اودقدرت اوځان غوښتي ډلي بي پکي غرقي کړي اوترڅه ثمره بي نن پخپله همدوي اخلي .

همداعلت وچي حزب اسلامي ددغه ائتلاف ناوړه عواقب اوبي بنسته جوړښت له اولي ورځي نه مردودګڼلي اوپه ډاګه یې اعلان کړي چي له هغه چاسره چي ترنن پوري یې ددي مومنوهیوادوالو په وینو لاسونه‌سره دي ائتلافي حکومت جوړول داسلام اوجهادي قوانینوخلاف عمل دي، ناوړه عواقب پرمخ کي لري ، زموږدهیوادوالواساسي اوپرځاي غوښتني نشي تمثیلولاي نوترهغي به جهادته ادامه ورکوو ترڅودسوچه اسلامي حکومت دجوړیدوپه لارکي پراته خنډونه له منځه وړي نه وي .

ربتیاهم که دحزب اسلامي دمجاهدانه قیادت ټولو هغووېناګانواولارښوونوته ځیرشوچي دائتلاف دجوړیدو پروخت اوبیاله هغي وروسته یې کړي دي اورښیاني بنه ئي نن دائتلافیونوترمنځ په اخ ودب کي وګورو نوددي خبري ښکاره اوقوي دلیل دي چي حزب اسلامي واقعاً هرګام چي پورته کوي ځانګړي هدف بي پکي دعظیم الشان خداي (ج) رضا اوددي مایوسواوبربدلیو هیوادوالو رواغوښتنوته لبیك ویل دي اوبس .

دائتلافیونواوسني جګړي داسلام ددښمنانو اوپرځان مینوخلکودهغوبرپاګندوپه مقابل کي چي ګواکي حزب اسلامي قدرت طلبه دي، په کابل ښارکي داناکراره وضعه دوي جوړه کړي، جنګ غواړي،ځان غواړي ، کابل ښاردوي وران کړ، بي رحمه راکټونه اودرني وسلي استعمالوي او... شرمنده اومرګوني څېېره ده چي پرمخ یې وخوړه اوانتقام اخستونکي رب العزت دهغومومنواوواقعي مجاهدینوانتقام له دوي څخه واخیست چي پدي هیوادکي یې داسلامي حکومت دجوړیدولپاره هلي ځلي کولي اوکوي یې.دغه راز داسلام ترنامه لاندي یې هغه شوم اصلي هدف هم ښه په ډاګه شوچي اصلاً ائتلافیون ، مومنوځوریدلیوهیوادوالوته دخدمت کولو لپاره دواك دترلاسه کولو هڅي نه کوي بلکي ځان په خلکوباندي واکمن غواړي ترڅودکړیوجنایاتومحکمه ورته پرانستله نشي .دکابل په ښارکي دائتلافیونوخونړي جګړي چي له یوي اووني ځڅه یې زیات وخت ونیودسلګونوهیوادوالو دمرګ اوژوبلي سبب وګرځیدي ، په زروونوکورونه یې وران کړل، پدي یخ موسم کي یې خلك تیښتي ته مجبورکړل، لوټ ماري اوشکوني وشوي داټول هغه څه وچي کابل ښاریان اونورمومن هیوادوال یې هم په مادي اوهم په معنوي لحاظ له سختي مایوسي اوناامیدي سره مخامخ کړي دي . دادچاله لاسه ؟ دادهغه چاله لاسه چي ځان ئي واکمن غوښت اودملحدوکمونستودلو چي داصیلومجاهدینودمقاومت په نتیجه کي له ماتي سره مخامخ وو، حمایه اوداسلامي اردوجزیي وګڼل، لوي لوي منصبونه یې ورکول، داسلامي حکومت تابع اوفرمانبرداره یې بلل اوهغه چاچي دائتلاف عواقب خطرناك ګڼل، ددښمنانویوه بله دسیسه یې بلله دهغوي په ضدیې جهادکاوه ، دجهادپه ادامي سره یې ترکیزدرلودهغوي یې په ناحقه په بین المللي کنفرانسونو اونوروشیطاني خپرونوکي دمجرم اوامن ضدمعرفي کاوه . ددي بداومایوس کوونکي حالت پوښتنه به له هغه چا کیږي چي اصلاً یې زمینه ورته برابره کړي اوقراني احکاموته درناوي نه کوي،دپښځوورځوقدرت لپاره الهي احکام چي فرمایي تاسي په خپلوعهدونووفاوکړي، هغه مه ماتوي، ترپښولاندي کوي.

دادشهیدانووارثان، داپلارورکي، زوي ورکي، وروروركي مظلومان، دادلوټ مارشویوکورونواوشتمنیو څښتنان اوبالاخره دادکوراوکلي څخه محروم ولسیان دکابل دائتلافي اداري له واکمن څخه په کلکه پوښتنه کوي چي ستاسي ائتلافیونوچي دامن اوسولي لاپي شاپي وهلي ، خلك مودوکه کول، نوراصیل مجاهدین موپه بي امنیتي اوناکراریو متهم کول ، دورانوویجاړواوورژنو باعث موګڼل اوس څه وشول چي تاسي په خپله دګن شمیرخلکودوژني، دکورونو دورانیدو، دسفارتخانوډزیاتمن کیدو اوپه یخ ژمي کي مودڅېرکي

(۷)مخ

اي دآدم اولاده! ماداهرڅه ستالپاره پیداکړي او ته مي دخپل عبادت لپاره پیداکړی یې .

محمدخلیل

الهي شریعت مسلمانانوته دالاربښودنه کوي چي دمیني اومحبت محوردي یواځي دیوالله جل جلاله ذات وګرځولي شي اوهمدادایمان اصل جزدي. هرمسلمان ته پکاردي چي خپل ټول محبتونه دالله پاك دمحبت تابع وګرځوي. هرهغه محبت چي دالله پاك له محبت سره ټکروخوري هغه دي پریږدي . لکه چي الله جل جلاله فرمايي ترجمه : ووایه اي محمده ! که چیري ستاسوپلرونه ستاسواوروڼه ستاسواوښځي ستاسو اوخپلوان ستاسواومالونه چي کسب کړي مودي هغه اوسوداګري چي ویریږي له بي رواجي دهغي نه اوکورونه چي خوښوي هغوله اوډیرمحبوب دي په نزدستاسوله خدایه اوله رسول دده نه ، اوله جهاده په لاره دده کي ،پس منتظر اوسي ترهغي چي راوړي خداي عذاب خپل اوخداي لاره نه ښايي فاسق قوم ته (التوبه -٢٤)

ښکاره خبره ده چي دالله پاك دمیني په وړاندي خنډکیدونکي شیان یاپلاراونیکه دي یااولاداووروڼه یاښځي دي یا کورني اومال ر سباب . په عامه توګه همداشیان انسان له الله پاك نه لري کوي اوالله سره له محبت نه منع کوي همداوجه ده چي الله پاك انسان ته خبرداري ورکړي چي هغه دي ټول محبتونه الله (ج) دهغه رسول (ص) اودجهادله محبت نه قرباني کړي . دلته یوي بلي مهمي خبري ته هم اشاره وشوه هغه داچي له الله سره محبت نه وروسته بیا دمحمدصلي الله علیه وسلم سره دمیني درجه ده اوبیا درجه درجه کي دجهاد اومجاهدینوسره مینه ده .

دلته دي داخبره باید په ذهن کي وساتل شي چي محمدصلي الله علیه وسلم ، جهاداومجاهدینوسره محبت اومینه په حقیقت کي دالله تعالي دمحبت تابع دي. احمداوطبراني روایت کړیدي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي . هیڅوك کامل مومن نه شي کیداي ترڅوچي دالله درضاپه خاطربل چاسره محبت ونه کړي اویواځي دالله په خاطرچاسره بغض ونه کړي . کله چي دالله درضا په خاطرچاسره مینه کوي اودهغه جل جلاله درضاپه خاطرچاسره بغض کوي نودالله پاك ددوستي مستحق ګرځي. په بویل حدیث کي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي :

دایمان مضبوط ترینه رشته داده چي خاص دالله لپاره محبت وشي اوخاص دالله لپاره بغض وشي . (طبراني - ١٥- ٤٢٣ مخ)

حدیث قدسي دي، الله جل جلاله فرمايي :

اي دآدم اولاده ! ماهرڅه ستالپاره پیداکړاوته مي خپل ځان لپاره پیداکړي. زماپرتاداحق دي چي هغه شیان چي ماتالپاره داسباب اوذریعویه توګه پیداکړیدي هغه دي تازماله عبادت اومحبت نه غافل نه کړي ځکه چي ستادپیدایښت مقصددادي چي زماعبادت وکړي پاتي نورټول شیان یواځي ماته درسیدولپاره وسائل اوذریعي دي . (طبراني - ١ - ٢٣ مخ)

دځینوعلماوو داخبره هم دتوجه وړده چي واتي هغه شي چي تادالله جل جلاله نه بي پرواکوي هماغه ستابوت دي . اوته دهغه عبادت کوونکي ئي دابوت دانسان خپل نفس اماره هم کیداي شي چي هغه بدي لاري ته راآړوي لکه چي الله پاك فرمائي: تاهغه شخص ولیده چي دنفس خواهشات یې خپل معبود ګرځولي دي. الفرقان (٤٣)

هرهغه څوك چيّ خپل نفساني خواهش سره دومره مینه کوي چي دالله پاك له اطاعت نه بي پرواکوي نوداسري په حقیقت کي دالله جل جلاله په عوض دخپل نفس بندګي کوي. همداخبره رسول الله صلي الله علیه وسلم په دي الفاظوکي تشریح کړیده .

" په تاسي کي هیڅوك ترهغه وخته پوري دایمان خاوندنشي کیداي ترڅوپوري چي دهغه خواهش زمادراوړي دین تابع ونه ګرځي ـ (النووي کتاب الحجة)

الله جل جلاله فرمائي : که چیري دوي ستاخبره نه مني نوپوه شه چي "داخلك په اصل کي دخپلونفسي خواهشاتواتباع کوونکي دي. (القصص - ٥٠)

په مسلمانانوکي ځیني خلك داسي هم شته چي اولادونه اوښځي دومره خوښوي چي له هغوي سره دالله (ج) نه زیاته مینه اومحبت کوي هغه داسي چي خپلواولادونومالونواوښځوسره دومره زیاته مینه کوي چي دهغه په وجه دالله پاك احکام شاته غورځوي اوعمل وریاندي نه کوي . لکه چي الله جل جلاله فرمائي :

اي خلکوچي ایمان موراوړیدي ستاسوښځواوستاسو اولادوڅخه ځیني ستاسي دښمنان دي له هغوي نه هوښیاراوسي . (التغابن - ١٤)

ځیني کسان داسي هم شته چي دمال اوجاه سره دومره مینه اومحبت کوي چي دالله جل جلاله اودهغه درسول صلي الله علیه وسلم له محبت اواطاعت نه بي پرواکوي اودجهادکولو توفیق ورته په لاس نه راځي. یاپه بله معني داکسان پخپل عملي ژوندانه کي مال اوجاه ته پرالله جل جلاله ، رسول الله صلي الله علیه وسلم اودخداي په لاره کي پرجهادترجیح ورکوي. رسول الله صلي الله علیه وسلم دغسي کسانوته دمال اوجاه بنده ویلي دي ، ځکه چي عملاً دمال اوجاه عبادت کوي زراودولت ئي خپل معبودګرځولي دي. پدي باب رسول الله علیه وسلم فرمائلي دي : په صحیح بخاري کي له ابوهریره رضي الله عنه روایت دي چي هغه صلي الله علیه وسلم وفرمایل : چي هلاك شوددیناربنده ؛ هلاك اوبدبخت شو ددرهم بنده ، هلاك شودجبه اودستاربنده ، هلاك شودجامواوعبابنده که چیري ورته ورکړي شي نوخوشالیږي اوچي ورنکړي شي نوخفه کیږي . داسړي دي بدبخت شي اودغړي دي ووهي . که په پښه کي اغزي لارشي نوته دي ویستلي شي زیري دوي هغه بنده ته چي دالله په لاره کي آس ئي قبضه کړیدي، ویښتان ئي بیراوقدمونه ئي ګرد جن دي که په پهره کي وي نوپهره کوي اوچي دپوځ مخکښي برخه کي وي نوخپل مسئولیت اداکوي که رخصت واخلي نورخصت ورنکړاي شي اوکه چاته سپارښت وکړي قبول ونه کړاي شي .

له عبدالله بن عقیم نه مرفوعاً روایت دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل :

چاچي خپل ځان کوم اسباب سره وتړلو هغه همغه اساب ته ورسپارلي شي . یعني کوم سړي چي الله پاك پریږدي اوپراسباب بروسه کوي نوهغه همغه اسباب ته سپارلي شي .(احمد ترمذي)

حضرت عمررضي الله عنه وایي چي مادرسول الله صلي الله علیه وسلم ارشاداوریدلي دي :

نوربیا

اعمارمسجد درمکروریان

برادرمحترم محمدګل !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

درحفظ وامان پروردګارباشیدوبعد :

اقدام مومنانه' برادران متدین مهاجرمقیم کانادا براي تعمیرمسجد، به همه مسلمانان وخصوصاً ملت مسلمان افغان قابل فخراست واین عمل نمایندګي ازاحساسات پاك واسلامي آنهامي نماید، واما درمورد اعتراض شمابخاطرعدم موجودیت مسجددرمکروریان هابایدعرض نمائیم که اصلاً بنیاداین بلاك هابانظرداشت اسلوب معاشرهٔ اسلامي ګذاشته نشده وازجریان چندین سال به اینطرف، اکثروبیشترمورد استفاده روس هاوکمونیست هاي ملحدقرارداشته است، بناءً به ساختن مسجد درآن حوالي سوال پیدانمي شود .به هرحال به این موافقیم هرحکومتیکه مدعي اسلام باشدباید درقسمت تعمیرمسجد درمکروریان هااقدام کندولي اولاً باید مکروریان هاراقابل زیست براي مسلمانان بسازد ویاازآن براي دفاتر، مکاتب ومدارس استفاده نموده وبراي فامیلي هامحل بودباش مناسب تعمیرنماید .

والسلام

اداره

###

محترم عبدالله خان ، السلام علیکم !

وبعد: نامه سراپا جنګ واکاذیب تان که نمایانګرطرزتفکروتربیه غیراسلامیست ، به این اداره رسید.

طوریکه قلم وزبان هردومعرف شخصیت است ، شمانیزخودرابوسیله نامهٔ تان کاملاً آشکارکرده اید.

اګرمعیارهاوموازین مطبوعات اسلامي اجازه پخش ونشرنوشته تان رامیداد، آنګاه همګان باشخصیت شما آشنایي حاصل مینمودند .

بازهم به آرزوي راهیابي تان به صراط المستقیم هدایت . (اداره)

##

خواننده محترم آقاي طلعت !

نامه دوم تان که حاکي ازضعف اخلاق وجهالت تان بودبه دفترمواصلت کرد. پاسخ مامختصراً به شمااینست که نخست شماکمي صبروحوصله کنید، جنابي راکه شما شیرتلقي مي نمائید، چګونه روباه ازآب درخواهدآمد؟!

ثانیاً پاسخ مابه شماهمانست که خداوند (ج) برآن امرفرموده : (السلام علیکم)

(اداره)

##

ګران وروړ نسیم کاکړصاحب ! لبك دي راورسیداوپه لوستوني ډیرخوشحاله شولوهیله ده چي زموږسلامونه هم وعلیك کړي .

قدرمنه ورووره ! ستاشوددوپوښتنوځوابونه په لاندي توګه دي، دراشده خلفاؤ په هکله موږداتصورقدري هم نشوکولاي چي ګني هغوي کوم کافر، مرتدیازندیق سره سازش اوګډحکومت ئي جوړکړي وي. اسلامي تاریخ خوموږته داراپه ګوته کوي چي راشده خلفاؤ دغسي عناصروپه خلاف جهادکړي اوهغوي ئي وژلي دي، حضرت ابوبکررضي الله عنه پخپل خلافت کي خوهغوکسانوسره هم دجهاد اعلان کړي ؤ چي هغوي دزکاة له ورکولو څخه انکارکړي ؤ. اوس نوپخپله فکروکړه چي که ابوبکرصدیق رضي الله عنه دزکاة مانعین ئي ونه بخښل. اوپرخلاف ئي جهادپیل کړنوکافرانواوزندیقانوسره دګډحکومت جوړولو سوال ځرنګه پیداکیداي شي؟

کوم مسلمان چي دپیسواومال په بدل کي دکفر اوالحاد ملګرتیاوکړي اودمسلمانانوپه خلاف جنګ کي شریك شي هغه مسلمان نشي پاتي کیداي ځکه چي شریعت دداسي کسانو په هکله په صفااوحرګندوتکوکي وایي چي داکسان مسلمان نشي پاتي کیداي اوښکاره کافران دي . که یومسلمان دکفرمرسته وکړي نوهغه پرته دځه شك نه کافردي اومسلمان ورته نشوویلي ځکه چي شریعت حکم دادي چي رضاپه کفرعین کفردي اوچي څوك په ښکاره توګه دکفراوالحادپه صف کي ولاړوي اوپرملاداسلام دسپاهیانو په خلاف جنګ کوي نوبیا دهغه په کفرکي څه شك کیداي شي ؟

##



قوم وملیت ارزش نیست

برادرمحترم پاچامنګل محصل کالج حکومتي درراولپندي !

امیدواریم که متقابلاً سلام هاي مخلصانه مارانیزبپذیریدودرآینده نیز بادقت وژرف نګري مطالب نشرات مارا مطالعه نموده،نارسائي هاي مارا به قصداصلاح برملاکنید .

ماباشماکاملاً هم عقیده ایم که جهادافغانستان مختص به قوم وملیت خاصي نیست ، درین جهادفخرآفرین ازتاجك وهزاره وپشتون وازبك وترکمن وبلوچ ونورستاني ګرفته تااقلیت هاي دیګرسهیم بوده اند، درهرقوم وملیتي افراد نیك و شریروجوددارد، این ادعا کاملاً عاري ازحقیقت ودورازانصاف است که یك قومي محاسن رابخودنسبت بدهدو قبایح رابدیګران . همانطوریکه مامجاهدپشتون، تاجك، هزاره ، ازبك وترکمن ونورستاني و ... داشتیم بالمقابل کمونیست وملیشه پشتون، تاجك ، هزاره وازبك داشتیم . دراسلام اکرام ومرتبه افراد منوط به تقواي آنهاست صرف نظرازاینکه بکدام ملیتي منسوب است . شکي نیست که ګاهي درنشرات ماملیشه هابه قوم ازبك منسوب شده، ولي این به معناي آن نیست که خداي ناخواسته همه ازبك هاملیشه باشند، چنانچه اقوام دیګر هم ازین چیزي میرانیستند. ان شاءالله هفته نامه الموقف هم متبعد چنان اطلاقي را کنند که بابك سیلي چندروي رادردمندسازند. هکذا قومانداانان ومجاهدین مسیرراه کابل - پشاورمتوجه این امرباشندکه بخاطرفلان ملیشه وفلان کمونیست، تمام مردم مسکونه منطقه همان ملیشه وکمونست رابه نام هاوصفات رکیك وسبك متصف نسازندو دربرخوردباآنهاجانب احتیاط وانصاف رابګیرند. واګربنابرجهالت چنین قضاياي صورت ګرفته باشد، مسئولین بایددرمجازات عاملین این جرم خانمان سوز دست بکارشوند تاخداي ناخواسته نام مقدس جهاداسلامي بالوث نشنلزم آلوده نګردد . (اداره)

محترم وروورحقپال صاحب !

ستاسي دتودوسلامونواواسلامي جذباتونه پخپل وارډیره ډیره مننه کوو اوبیا ستاسي دلیك په ځواب کي لیکو:

کوم لیك چي تاسي مخکي مونږته رالیږلي هغه تراوسه زموږ ترسترګوشوي نه دي او ددوهم لیك دمطلب اصلي ټکي "چي دقاضي صاحب دبریالي آپریشن" په باره کي مودمبارکي پیغام اودحزب اسلامي دسوچه دریځ په هکله نیك نظریات لیکلي دي ډیره مننه کوو هیله ده چي خپله قلمي رابطه راسره تل وساتي .

(اداره)

دکوهات دضلعي تحصیل" هنګوڅخه عبدالجبار" جبارخیل " ! سلامونوته مووعلیکم والسلام وایو!

داچي تاسي دشهادت ورځپاڼي دترلاسه کولو اودخلکودغوښتنو دپوره کولو په خاطر کوم پیشنهادونه اودمشکل دحل لاربښودني موکړي باید ووایوچي ستاسي دشهادت دفترته راتګ یوځلي ضروري دي چي داسي غوښتنوته موږه ګډه دحل لارپیداکړو . (اداره)

###

محترم ورور محمداسمعیل کاکړصاحب ! سلامونوته دي وعلیکم السلام وایو.

قدرمنه ! زموږزیاتره کوښښ همدادي چي دشهادت داخبارله لاري خپل مومن اومجاهدولس ته داسلام اصلي روح اوصحیح حقائق وښیو ان شاء الله تعالي په آینده کي به هم داصحابوکرامو کیسي اوکارنامي نشرته سپارو خاطرجمع لره.والسلام

(اداره)

ماهیئت نظام اجتماعي اسلام

عبدالواحد "نهضت فراهي"

مسلمان ازنظراسلام موجودي است که قیادت وزعامت جهان بشریت رابایدبرعهده بګیردوبه اثرسعي وتلاش پیګیر آنراجهاني وهمګاني بسازد. ازهمین جهت ضرورت مي افتدکه این مخلوق بااحساس وشعورمیان همنوعان خودحیات بسربرده ناګزیراست که داراي نظام اجتماعي باشدتادرپرتوآن بتواند زندګي بي دردسري داشته باشد. البته نظام ها هم صالح است وهم فاسد واین نظامهاانعکاس دهنده راه وروش همان اجتماعاتي است که این نظام هاي صالح وباطالح برآنهاحکومت میکندباید ګفت که اصول واساس نظام اجتماعي اسلام را مواردآتي تشکیل مي دهد :

- عقیده اسلامي : عقیده اسلامي جوهرواساس نظام اجتماعي رادراسلام تشکیل مي دهد .

برعقیده اسلامي نتائج آتي مرتب مي شود: رابطه ایماني ، محووازاله تعصبات قومي وقبیلوي ونژادي وبرتري وفضیلت براساس تقوي .

خصوصیات نظام اجتماعي دراسلام:

نظام اجتماعي اسلام برین اصول قائم واستواراست :

١- رعایت اصول ومباني اخلاق

٢- التزام وپابندشدن به اصل عدالت

٣- اهتمام وتوجه به خانواده ،امورخانوادګي متشکل ازعناصر آتي است : ازدواج واحکام مربوط به آن ، حقوق زن درقبال شوهر، حقوق شوهردربرابرزن، تعددزوجات ازنظراسلام تعدد دراسلام ازاصل اباحت برخورداراست. طلاق : قبل ازوقوع طلاق بایدتدریج رعایت ومراتب آتي درنظرګرفته شود: زندګي زن وشوهربایدبراساس احترام متقابله به نیکوئي ادامه یابد، اګراین اصل ناممکن ګردد ازروش تأدیب استفاده ګردد این تادیب نیزمراتبي دارد: چون وعظ ونصیحت ، ترك بستروزدن، زدنیکه آثاري ازخودبجانګذارد درمرحله اخیرکه چاره حصرګردد ازطلاق استفاده شودواین طلاق دادن هم مطلق نبوده درپرتویك سلسله شرایطي انجام مي شود، حقوق ایتام درخانواده ، نفقه پدرومادربرفرزند اتحاد وهمبستګي میان خانواده .

٤- تثبت حدودموقف زن دراجتماع اسلامي :

١- حقوق زن : حق زندګي شریفانه وباکرامت - مهر، نفقه - آموختن علوم مفیده ، حضانت درحصه اشتغال زنان به امورسیاسي میان علماء اختلاف نظرهایي وجوددارد.

٢- مکلفیت هاي زن

٣ - وظایفیکه مختص براي زنان است .

